PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اوونیزه

دحزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت دويم کال ،۳ه ۵ مه ګڼه، چهارشنبه -۱۳۸۹ -هـ ل دوری ۱۸ مه - د ربيع الثانی ۲۲ -۱۴۳۱- هـ ق ، ۲۰۱۰ م د اپریل ۷ مه

ولي مو اسلام ومانه

ژباړه: محمد خلیل

۳ مخ

الهی فرمان

ای رسوله! هغه څه خلکو ته ورسوه چې ستا د رب له لوری پر تا نازل شوي دي او که دا کار دې ونکړ نو د رب پیغام دې په بشپړه توګه ونه رساوه. او الله پاک دې له خلکو څخه ژغوری. بېشکه چې الله پاک نه منونکي قوم ته لیار نه ښايي

المايده ٦٧

د سولې جرګه به د مخالفانو سره د خبرو اجنډا جوړوي

فاروق وردګ:

د پوهني وزير فاروق وردک چې په کابل کي د ثور په دوهمه هفته کي د سولي د جوړيدونکي مشورتي جرګي د جوړيدلو د کميسون مشري هم کوي د دوشنبي په ورځ خبريالانو ته ددغي جرګي د جوړيدلو په باب د معالوماتو د ورکولو په وخت وويل چي اوس په پام کي دي چي دا جرګه د ثور د ۹ ورځي پر ځاي د ثور په ۱۲ ورځ د دريو ورځو لپاره په کابل کي د لوي جرګي په کيږدي کي د نږدي ۱۳۰۰ استازو په ګډون جوړه شي.

وردک وويل چي دا جرګه يوازي يوه اجندا لري او هغه د مخالفانو سره د خبرو لپاره د کړنلاري د جوړولو په سر سلامشوري کول دي" له چا سره خبري وشي په څه باندي خبري وشي چيرته خبري وشي او د چا پواسطه خبري وشي ." ښاغلي وردک وويل چي دا جرګه به يوازي يوه اجندا ولري او هغه د افغانستان د حکومت مخالفو وسلوالو سره د پخلاينې لپاره د ملت د استازو د موافقي ترلاسه کول دي.

پاتي ٤ مخ

'کاهش' در تلفات ناشی از انفجار مین در افغانستان

برای پاکسازی افغانستان از مین، به شش سال و پنج صد میلیون دلار نیاز است

یک نهاد هماهنگ کننده امور مین کشی در افغانستان اعلام کرده که تلفات انسانی ناشی از انفجار مین در این کشور، در مقایسه با دو سال گذشته حدود شصت درصد کاهش یافته است.

مرکز هماهنگی امور مین پاکی افغانستان (MACCA) می گوید از آغاز سال جاری، در هر ماه حدود چهل نفر قربانی انفجار مین شده اند، در حالی که این آمار در دو سال گذشته، در هر ماه حدود یکصد و پنجاه نفر بود.

محمد حیدر رضا، مسئول این اداره می گوید که پاکسازی مناطق بیشتری در دهکده های افغانستان، دلیل کاهش تلفات ناشی از انفجار مین است.

آقای رضا گفت که برای پاکسازی تمامی افغانستان از مین، به حدود پنج صد میلیون دالر پول و شش سال زمان نیاز است.

مناطق مختلف افغانستان در جریان جنگ های داخلی این کشور، مین گذاری شده و پاکسازی این زمینها از مین، از برنامه های اصلی سازمان ملل متحد و دولت افغانستان در سالهای اخیر بوده است.

با وجود سالها تلاش برای پاکسازی افغانستان از مین، آمار رسمی نشان می دهد که هنوز این کشور حدود ۶۰۰ کیلومتر مربع زمین زیر مین دارد.

مقامات می گویند بیشتر این مناطق از ولایات شمالی، جنوبی و شرقی افغانستان موقعیت دارند.

علاوه بر این، گزارشهای منتشر شده که نشان می دهد که در جریان درگیری میان نیروهای امنیتی و گروه های مسلح، ساحات جدیدی در افغانستان مین گذاری می شود که این مسئله، زمانبندی برای پاکسازی افغانستان از مین را دشوار می سازد.

مراسم فاتحه خوانی استاد عبدالرحمن شهید برگزار گردید

مراسم فاتحه خوانی مرحوم استاد عبدالرحمن عضو شورای مرکزی حزب اسلامی افغانستان، روز سه شنبه ۱۷ حمل از طرف اعضای شورای رهبری حزب اسلامی و اقارب شهید در مسجد جامع شیرشاه سوری شهر کابل برگزار گردید.

درین مراسم که از ساعت ۱:۳۰ الی ۳:۳۰ بعد از ظهر روز سه شنبه برگزار شده بود، علاوه از اقارب، اراکین و اعضای حزب اسلامی افغانستان از مرکز و ولایات، جمع غفیری از دوستان و علاقمندان آن مرحوم، اعم از رهبران جهادی و سیاسی، عده ای از اعضای کابینه والیان، معینان و روسای وزارتخانه ها، یکتعداد افسران و سربازان اردو و پولیس ملی، عده از علما متنفذین قومی کارمندان دولتی، استادان معارف و موسسات تحصیلی، تجار و اهل کسبه شرکت نموده بودند. در مراسم فاتحه خوانی، استاد قاضی محمد امین وقاد ضمن یاد آوری ازاخلاص، تعهد، ایمانداری، مبارزات و قهرمانی های مرحومی، مراسم را با دعایه اختتامیه به روح شهید استاد عبدالرحمن خاتمه بخشید.

استاد عبدالرحمن مسکونه ولسوالی گرشک ولایت هلمند، یکی از قوماندان های معروف دوران جهاد و عضو شورای مرکزی حزب اسلامی روز جمعه ۶ حمل حین رفتن به سوی مسجد غرض ادای نماز جمعه توسط افراد ناشناس به شهادت رسید.

انا لله و انا الیه راجعون

اینډپینډنټ: ناکامی در جنگ افغانستان حتمی است

اردوی بریتانیا نسبت به عدم حمایت مردم از عملیات نیروها در افغانستان، دچار نا امیدی شده است(مت بازلی)

لندن- یک روزنامه غربی در گزارشی با اشاره به وضعیت افغانستان و بدبینی مردم بریتانیا به این جنگ نوشت: عکس العمل منفی مردم بریتانیا به تعداد تلفات عساکر در افغانستان و عدم حمایت کافی از جنگ تلاشهای نیروهای امنیتی را در این کشور ضعیف میکند.

به گزارش ایندتیپیندنت، یک مقام بلند پایه اردو بریتانیا که هم اکنون در ولایت هلمند حضور دارد،دیروز دوشنبه گفت: عکس العمل منفی مردم بریتانیا به تعداد تلفات و بدبینی به جنگ افغانستان تلاشهای نظامیان را در خطوط اول جنگ تضعیف می کند.

وی افزود که در آینده نزدیک مردم بریتانیا خواهان بازگشت اجساد نظامیان خود به شهر ووتون باست در جنوب غربی این کشور می شوند.

همچنین مت بازلی یک افسر اردو بریتانیا به روزنامه ایندیپیندنت گفت که هم اکنون اردو بریتانیا نسبت به حمایت مردم از عملیات نیورهای امنیتی در افغانستان دچار نا امیدی شده است و مردم تلاشهای

بقیه ص ۴

سرلیکنه

د لوي او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

فساد که د ګناهونو مور؟!

له دې حقیقت نه بالکل انکار نشي کېدلی چې په افغانستان کې اداري فساد د خلکو په رګونو رګونو کې د مرغوني او کریلو د تریخوالي په څېر نتوتي دي.

همدا وجه ده چې به افغانستان کې د اداري فساد تریخوالي هر چېرته هر ځاي او په هر چا کې محسوسېږي.

له څه شک پرته دا د افغاني ټولنې لپاره ډېر خطرناک او وژونکې ناروغي ده، که چېرته ددې د مخنیوي لپاره جدي او موثر ګامونه اوچت نکړی شي نو دا به د افغانانو لپاره تر ټولو لویه تباهي او هلاکت وي.

فساد هغه ناولي او بوګنونکي نوم دی چې پایلې یې ډېرې خطرناکې او انجام یې له ورانۍ او ویجاړۍ نه پرته بل څه په نظر نه راځي.

که له حقیقت نه سترګې پټې نکړی شي نو په دې واقعیت له اعتراف کولو پرته بله چاره نشته چې فساد د افغانستان د ټولو کړاوونو او مشکلاتو اصلي محور او مور دی.

د افغانانو مشکلات او پریشاني تر هغه نشي ختمیدلي تر څو چې د فساد ټولې جرړې ونه ویستل شي، فساد د یوې ټولنې لپاره د تبرکلوز د ناروغۍ مثال لري ددې د صحیح درملنې پرته د یو انسان ژوند او صحت په هیڅ حالت کې نشي تضمین کیدلی.

په اوسنۍ زمانه کې د ایډز ناروغي او د هیروئینو استعمال تر ټولو مهلک او خطرناک چلینج ګڼل کېږي خو که له ژور غور او فکر نه کار واخیستل شي نو فساد تر ټولو لوي چلنج دی، همدا فساد دی چې هرې بدۍ ته لارې پرانیزي او ټولنه د ګناهونو په ګنده تالاب کې ډوبوي.

ځکه خو الله تعالي پخپل کتاب قرآن کریم کې په څرګندو ټکو کې انسانیت ته خبرداری ورکړیدی چې الله فساد نه خوښوي.

فساد هغه جامع کلمه ده چې ټول ګناهونه په خپل غېږ کې نیسي، فساد لوي سیند او نور ګناهونه د هغه نهرونه او ویالې دي، خو ډېر افسوس چې د افغانستان حکومت او وګړي سره ددې چې د فساد له تاوانونو او بدعو عواقبو څخه ښه خبر دي او لدینه سرونه ټکوي مګر ددې د مخنیوي لپاره د عملي اقدام له اوچتولو څخه داسې عاجز دي لکه چې په لاسو شل او پښو ګوډ انسان د دښمنۍ په وړاندې له خپلې دفاع نه عاجز وي.

اوس په دې خبره غور پکار دي چې آخر هغه کوم عوامل دي چې د افغانانو لاسونه د فساد په وړاندې تړلي دي او نشي کولی، چې له دې ناروغۍ نه ځانونه خلاص کړي.

ښکاره خبره ده چې د ایمان او اسلام کمزوري په دې کې لوي لاس لري. زموږ ایمان لا هومره پوخ او غښتلی شوی نه دی چې د ګناهونو او فساد په وړاندې خپلې سینې ډال او هغه په نطفه کې خنثی کړو، ګناه او نیکي دوه داسې مخالف دشمن لښکرې دي چې هر یو کمزوري شي پل یې له منځه وړي به حقیقت کې زموږ د نیکۍ لښکر کمزوری او بدي لښکر مو غښتلي دی. د بدي په لښکر غلبه هله ممکن دی چې د نیکۍ لښکر غښتلي کړو.

رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي:

اي خلکو تاسې خبردار واوسئ چې د انسان په بدن کې یوه ټکړه ده که هغه فاسده شي نو ټول بدن ورسره فاسدېږي او که هغه اصلاح شي نو ټول بدن ورسره اصلاح کېږي.

خبردار! هغه زړه ده. نفس د یو سرکښ ځناور حیثیت لري او ایمان د هغه لپاره نکیل (پیزوان) ډی چې سر غړونې ته نه پرېږدي. په هېواد کې د روان فساد مخنیوي یوازې په پوخ ایمان، صالح زړه او مصمم عزم سره کیدلی شي لدې پرته بل هېڅ نسخه د فساد جرړې نشي ویستلي. افغانانو ته پکار دي چې په اجتماعي توګه خپل رب ته رجوع وکړي او د فساد له ناوړه عمل نه لاس په سر شي. خو دا خبره دې په پام کې ونیول شي چې د فساد د ختمولو او د یوې صالحې ټولنې د رامنځته کولو لومړی مسوولیت د حکومتي چارواکو دی تر څو چې دوی خپل دغه اسلامي، اخلاقي او ملي مسوولیت ادا کولو ته چمتو نشي په افغانستان کې د صالحې اداري او ټولنې منځته کېدل خورا ګران بلکې ناشوني دی. له بده مرغه حکومتي چارواکي د فساد په خلاف خبرې خو ډېرې کوي مګر د عمل په ډګر کې تر اوسه د فساد له ګنده ډنډ نه په وتلو نه دي بریالي شوي او د شفافیت هېڅ څرک پکې نه لیدل کېږي. داسې هر ګز نشي کېدلي چې لوړ پوړي چارواکي او مامورین خو دې په فساد کې ککړ وي مګر لاندې خلک دې بې ازاره مارغان جوړ شي. که واقعاً لوړ پوړي چارواکي له هیواد نه د فساد جرړې ویستل، او په هېواد کې شفاف حاکمیت غواړي نو د ډېرو لاپو شاپو او خبرو پر ځاي دې په بشپړ اخلاص د عمل ډګر ته ودانګي او د خپل ولس لپاره یو الګو او بېلګه جوړ شي.

تدویر جرگهٔ ملی مشورتی صلح

اعزامی

بنابر وعدهٔ جناب حامد کرزی رئیس جمهور کشور پس از بازگشت از کنفرانس لندن مبنی بر اینکه در اواسط فصل بهار سال ۱۳۸۹ جرگهٔ ملی مشورتی صلح در کابل دایر می گردد و به دنبال آن به اشتراک جامعهٔ بین المللی و کشور های همسایه کنفرانس کابل برگزار شده و در آن در مورد مصالحه با مخالفین دولت تصمیم اتخاذ خواهد گردید، آمادگی ها برای برگزاری جرگه ملی مشورتی صلح گرفته شده است. بنا به گفتهٔ منابع آگاه جرگه ملی صلح در اوایل برج ثور سال ۱۳۸۹ به اشتراک تقریباً ۱۲۰۰ نفر از نماینده گان اقشار مختلف مردم برگزار خواهد شد. اگر چه تا حال در مورد جزئیات ساختار تشکیل و چگونگی گزینش اعضای جرگه مذکور به تفصیل مطالبی به نشر نرسیده، ولی حد اقل این نکته روشن گردیده که ثلث اعضای این جرگه را اعضای شورای ملی تشکیل می دهد. اینکه ایا اعضای شورای ملی درین جرگه اشتراک می کنند یا خیر، تا هنوز فیصله ای در جلسه عمومی شورای ملی صورت نگرفته است. ولی آنچه مسجل گردیده. اینست که اعضای این جرگه بیشتر به صوابدید حکومت تعیین می گردد و فیصله های آن نیز متاثر از مواضع دولتمردان خواهد بود. صاحب نظران را عقیده بر آنست که حکومت بایست قبل از برگزاری جرگه ملی مشورتی صلح در مورد پیش شرط های اعلان شده از جانب دولت و مخالفین به بحث و مناقشه پرداخته و با حل و فصل آن ها از راه تفاهم و تنازل بدون قید و شرط وارد پروسهٔ مصالحه شوند. زیرا کامیابی روند مصالحه در رعایت نکته نظرات هر دو طرف قضیه نهفته است.

هر گاه میان طرفین قضیه در جهت حل معضله توافقی به میان نیاید، برگزاری جرگه ملی و با هر اقدام و تلاش دیگر به نتیجه مثبتی منجر نمی شود. تا اکنون از تنازل طرفین در قسمت نادیده گرفتن پیش شرط های ارائه شده کدام اطمینان و پیشرفتی به نظر نمی رسد و هنوز هم هر دو طرف بر شرایط قبلی شان پا فشاری دارند.

بدیهی است که در چنین وضعیتی برگزاری جرگه ملی مشورتی صلح در کابل نه تنها اینکه دستاوردی نخواهد داشت، بلکه بدون آمادگی ذهنی هر دو طرف، برگزاری این جرگه جز ضیاع وقت و دادن امیدواری کاذب به مردم، دیگر هیچ پیامدی نخواهد داشت. پروسهٔ صلح زمانی پر ثمر خواهد بود که هر دو طرف با حل و فصل پیش شرط ها آمادگی همه جانبهٔ وجدی برای تفاهم، مذاکره و مشارکت سیاسی داشته باشند.

حکومت باید برای اطمینان و جلب توجه مخالفین برای خروج نیروهای خارجی تقسیم اوقات درست کند، چنانچه آغاز خروج نیروها از جانب امریکا نیز اعلان شده است هکذا مخالفین مسلح بخاطر جلب توجه دولت و جامعه جهانی با قبول طرح متارکه در مورد اصلاح و ترمیم برنامه و ساختار سیاسی و نظامی دولت به تفاهم و مذاکره آغاز نموده و بدین وسیله به اعتماد سازی بپردازد. زیرا مصالحه بدون ایجاد فضای اعتماد و رواداری بمیان آمده نمی تواند و این کار ممکن نیست جز قبول یکمقدار تنازل هر دو جانب قضیه. از مواضع قبلی شان، اعتماد سازی میان طرفین با تشدید جنگ به میان نمی آید، بلکه فضای اعتماد زمانی ایجاد میگردد که دولت افغانستان خارجی ها را وادار سازد تا با ارائه طرح تقسیم اوقات خروج تدریجی، زمینه ادغام و تقرب طالبان را به دولت مساعد سازد و همچنان تمامی مخالفین دولت که بنام عناصر خطرناک در لست سیاه شورای امنیت ملل متحد درج بوده و تحت تعقیب اند، ملغی اعلان شود (طوریکه دولت از قبل خواستار آن شده) و از نمایندگان مخالفین دولت غرض اشتراک در جرگهٔ ملی صلح نیز دعوت به عمل آید. هکذا آنعده از افرادیکه بنام مخالفین دولت زندانی اند، آزاد گردند.

حسابات بانکی منجمد شده آنها باز شده و به آنها فرصت داده شود تا در تصمیم گیری ها روی سیاست های بزرگ دولت سهم بگیرند.

حکومت افغانستان باید در جرگه ملی مشورتی صلحه فیصله کند که جامعه جهانی در امور داخلی افغانستان بیطرفی خود را حفظ نموده و به دولت فرصت بدهد که در جهت پیشبرد پروسه صلح با دست باز وارد عرصه شود.

حکومت باید با جامعه جهانی به صورت قاطع درین مورد صحبت بکند و به ایشان حالی کند که بحران افغانستان جز از راه مصالحه، راه حل دیگری ندارد و خارجی ها فقط به خود کفا ساخته افغان ها راه را برای مصالحه بگشاید.

بیشترین نقش را درین پروسه همسایگان افغانستان، به عهده گرفته می توانند، باید رقابت های پیدا و پنهان میان همسایگان و کشورهای عضو ائتلاف بین المللی بر سر حل قضیه افغانستان کنار گذاشته شود و این کشور ها به جای اعمال رقابت و مسابقه در قضیه، در بر چیدن عوامل دهشت افگنی و جلو گیری از کشت و قاچاق مواد مخدر و زدودن فساد اداری و رشوه ستانی در ادارات دولتی همکاری نمایند. ستراتیژیست های نظامی تهاجم نیروهای خارجی و افغان را بنام عملیات مشترک به مواضع مهم طالبان در ولایت هلمند، مقدمه ای برای مجبور ساختن طالبان جهت شمول در پروسه صلح می دانند و حتی گفته می شود که با تکرار این حملات بر مواضع آنها در ولایت کندهار می خواهند که طالبان زودتر به سر میز مذاکره حضور یافته وبا امتیاز خواهی کمتر حاضر به مصالحه و معامله شوند، ولی در عمل دیدیم که این پندار برای تضعیف طالبان عمل سنجیده نبوده چنانچه بدنبال عقب نشینی طالبان از مارجه، تحرکات نظامی آنها به قصد انتقام گیری در کابل و کندهار شدت گرفت و بوسیله انفجارهای تکاندهنده و خونین به خارجی ها فهماندند که پاسخ عقب نشینی طالبان در هلمند ضربه زدن دولت در کابل و کندهار بود.

اجلاص جرگه ملی مشورتی صلح، زمانی موفق خواهد بود که خارجی ها از ادامه حملات بیشتر بر مواضع مخالفان مسلح صرف نظر نموده و بخاطر جلب توجه آنها به اعتماد سازی بپردازند، زیرا طرح حملات تازه و تشدید جنگ موجب اعتماد زدایی شده و امکان توافق و تفاهم را فی ما بین هر دو طرف کاهش می دهد و ادامه آن باعث طولانی تر شدن بحران و ویرانی بیشتر افغانستان میگردد.

کاش زموږ چارواکي هم د حضرت عمر لاره تعقیب کړي!

عبیدالله صافي

د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې د بیت المال یو اوښ ورك شوی و، هغه رضي الله عنه پخپله د هغه په لټه کې ووت تکنده غرمه وه او ډېره گرمه هوا چلیده، عمر رضي الله عنه اخوا دیخوا سرگردان گرځېدو چې د بیت المال ورك شوی اوښ پیدا کړي، په دې وخت د حضرت عثمان رضي الله عنه سترگې پر هغه ولگېدلې او ورته یې وویل: ای عمره! په دې تکنده غرمه او سخته گرمي کې دلته څه کوې؟ هغه رضي رضي الله عنه ورته وویل: د بیت المال ورك شوی اوښ پسې گرځم، عثمان رضي الله عنه ورته وویل: دې کار لپاره خو دې بل څوك هم لیږلی شو. عمر رضي الله عنه ورته وویل: د قیامت په ورځ خو به پوښتنه له مانه کېږي نو ځکه زه پخپله باید دغه کار پسې وگرځم.

یوه ورځ حضرت حفصه رضي الله عنا د زیتون په تېلو کې کتغ پوخ کړ او د حضرت عمر رضي الله عنه په وړاندې یې کېښود. عمر رضي الله عنه چې دا کتغ ولید نو ویې ویل: دا څنگه کېدلی شي چې زه دې لا په زیتون کې پوخ شوی کتغ وخورم په داسې حال کې چې زما رعیت ته یو کتغ هم نه رسېږي.

راځئ چې اوس خپل حکومتي چارواکو ته وگورو چې هغوی څومره د خپل ولس په غم کې دي؟

یقینا چې بیت المال او د هېواد پانگه د حکومتي داړه مارانو په لاس لوټل کېږي چې پخپله ولس مشر هم څو څو ځلي له اداري فساد نه سر ټکولی دی.

د حکومت زیاتره لوړ پوړي چارواکي لگیا دي لوی لوی هوټلونه او لوړ پوړیزې ودانۍ جوړوي، د غریبانو، مسکینانو، یتیمانو او معیوبینو حقوق پخپلو جېبونو کې اچوي، په هر ډاك او هره دښتنه کې نومرې اخلي، په قیمتي موټرو کې گرځي او هر یو له اصراف نه ډك ژوند تېروي، هر لوري د رشوت او فساد بازار یې گرم گرم کړی دی. عدل او انصاف په دوربین کې هم نه لیدل کېږي امن او امان خپل سر خوړلی دی. هره ورځ د مظلومو وگړو په ځان، مال او عزت تېری کېږي او پوښتنې والا یې څوك نشته. بېچاره ولس د یو وخت لپاره هم په مړه گېډه وچه ډوډۍ نه لري مگر ډېر حکومتي چارواکي یواځې د سهار په ناشته کې زرگونه روپۍ، بادوي زیات هېواد وال د اوسېدو لپاره جونگړه نه لري مگر گڼ حکومتي چارواکي د هوټلونو او بلند منزلونو په جوړولو نه مړېږي.

د لوړ پوړو چارواکو زامن په امریکا، او اروپا کې سبقونه وایي مگر د بېچاره ولس زامن د یو نوړۍ ډوډۍ پیدا کولو لپاره په کوڅو کې گدایي کوي.

د زیاترو لوړ پوړیو چارواکو ښځې په طلا، یاقوت، زمرد او د ورېښمو په جامو کې پټې دي مگر د شهیدانو او غیرتي ولس خویندې میندې او لونې د کباړ له جامونه هم محرومې دي.

د دوی د اولادونو علاج د هند، امریکا او اروپا په روغتونونو کې کېږي مگر له بنار نه لیرې پارته ولس د یو پاکټ گولۍ ته هم لاسرسی نه لري.

که دغو حکومتي چارواکو له خپل ولس او خاورې سره همدا سلوك وي نو دا بېچاره ملت به د عدل او انصاف غوښتنه له چانه کوي؟ کوم ولس مشر او کوم عدالت ته به د فریاد خولۍ گرځوي؟ چاته به وایي چې د هغوي پر حقوقو ډاکې وانچوي، چاته به ژړا کوي چې د سر پټولو لپاره جونگړه او د ژوند ساتلو لپاره یوه نوړۍ ډوډۍ مهیا کړي؟ له چانه وغواړي چې د هغوي پر مال، ځان او عفت د تیري مخه ونیسي؟

چاته شکایت وکړي چې په حکومتي دوایرو کې د خلکو جېبونه تش نکړي، چاته عریضه وکړي چې په ټولنه کې د بې عدالتي او بې انصافي مخه ونیسي؟ چاته د سوال لاسونه ونیسي چې د فحاشي، بې حیایي، بربنډتوب او بد اخلاقي د خړ سیلاب په وړاندې بند واچوي؟

ایا په عالم الاسباب کې شته داسې څوك چې دغه بېچاره ملت هغوي ته خپل فریاد وړاندې کړي؟

همدا تاسې د افغانستان مسلمان ولس حاکمان او واکداران یئ، همدا تاسې راعیان او د چارو سنبالوونکي یئ، د هېواد ټول وسائل ستاسې په واك کې دي، پولیس هم ستاسې دي او پوځ هم، ملي شتنمي هم ستاسې په واك کې دی او رعیت هم، والیان هم تاسې مقرر کړي دي او وزیران هم، قاضیان هم ستاسې له لوري معرفي شوي او ولسوالان هم، بیت المال هم ستاسې په لاس کې دی او د مصارفو اك یې هم تاسې لرئ.

که ملت له تاسو نه پوښتنه ونکړي نو له چانه یې وکړي؟

ایا د رسول الله صلي الله علیه وسلم د مبارك حدیث په رڼا کې هر راعي د خپل رعیت په وړاندې مکلف نه دی چې پوښتنو ته یې ځواب ووایي؟ ایا رعیت حق نلري چې له خپلو چارواکو نه د هغوي د مسوولیت په اړه پوښتنه وکړي او حساب ترینه وغواړي؟

له څه شك پرته رعیت شرعي او قانوني حق لري چې له خپلو چارواکو نه پوښتنه وکړي او د دې خبرې وضاحت ترینه وغواړي چې تر اوسه خپل مسوولیت یې څنگه ادا کړی دی؟

ایا له چارواکو سره د یو مسلمان راعي په توگه دا احساس شته چې بیت المال د ولس حق دی او په دې کې بې ځایه تصرف گناه ده که احساس ورسره شته نو بیا ولې په رڼا ورځ په بیت المال ډاکه اچول کېږي آیا دوي ته دا خبره نه ده معلومه چې اصلاً د ولس مشران د خپل ولس خادمان وي؟ که دوی خپلو ځانو ته واقعاً د ولس مشران وایي نو بیا د ولس خدمت همداسې دي چې د هغوي د خولې نوړۍ دې هم وتښتول شي؟ خپلو ځانو ته خو دې ټول سهولتونه برابر کړی شي مگر بېچاره ولس دې د یو وخت ډوډۍ لپاره شپه ورځ سرگردان وي.

د هغوي کارونه خو دې په یو تیلفون او یو خط سره وشي مگر د بېچاره او ځورېدلي ولس دې په زرگونو او لکونو رشوت ورکړي.

که د دوی دا حالت وي نو په هېواد کې د روان فساد مخه به څوك نیسي؟ ایا په تشو خبرو او تقریرونو سره به ددې مخه ونیول شي؟! که چېرته په تشو خبرو ددې مخه نیول کېدای شوه نه بیا خو به له کوم وخت نه د فساد جرړې ختمې شوې وې، یقیناً چې په تشو خبرو یو کار هم نشي کېدلی او نه هم ددې امکان شته چې راتلونکي لپاره دا تشې خبرې څه نتیجه ورکړي، بلکې ددې لپاره کلك ایمان، صمیم عزم او مسولیت ټینگ احساس پکار دی، د انسانیت لارښود حضرت محمد صلي الله علیه وسلم او د هغه راشده خلفاو پرسنت د عمل کولو ضرورت دی او د هغوي پشان اخلاص او جذبه په ځان کې پیدا کول پکار دي که د حکومت لوړ پوړي چارواکي د حضرت عمر رضي الله په څېر د بیت المال د حفاظت احساس او غم په ځان کې پیدا کړي او له خپل رعیت او ولس سره دومره همدردي پیدا کړي چې د حضرت عمر رضي الله عنه په څېر په غوړو کې پوخ شوی کتغ تر هغه ونه خوري تر څو چې ټول رعیت ته دا سهولت نه وي مهیا شوی نو له څه شك پرته افغانستان له دغو ټولو روانو مشکلاتو نه نجات تر لاسه کولی، او داسې یو مقام ته رسېدلی شي چې راتلونکي لپاره پخپلو پښو ودرېږي او بل چاته د گدایي کچکول ونه نیسي لوی الله دې چارواکو او ولس ته د نیکۍ او تقوي توفیق ور په برخه کړي.

آمین.

ولې مو اسلام ومانه؟

پخوانی مذهب سکهـ

د هېواد نوم هندوستان

د فطرت انتخاب

اسلام د فطرت دین دی، دا هغه قیمتي پانگه ده چې چاته د مور په غېږ کې ورته په نصیب کېږي، قدر یې کوي او خپل ژوند وربانديې قایموي.

لیکن ځیني نیکبخت خلك داسې هم شته چې د کفر په غېږ کې سترگې پرانیزي او پالنه یې کېږي، مگر له ډېرې پلټنې او تلاش نه وروسته د کفر له تنگو او تیارو لارو نه په تېرېدو سره د ضمیر په روښنایي کې د سفر په حالت کې بالاخره د اسلام فطري دین تر لاسه کوي.

یو هندوستاني سکهـ ځوان چې اسلامي نوم یې محمد اقبال دی د خپل مسلمانېدو کیسه څه داسې بیانوي:

د مغلو د حکومت په ورځو کې اسلام او هندوایزم د یو ځای کولو د کوښښ په نتیجه کې سکهـ مذهب منځ ته راغی، په حقیقت کې سکهـ مذهب د اسلام او هندومت ترکیب دی. ددغه مذهب باني څو حجونه هم کړي دي. گرنت د الله تعالي د وحدانیت درس ورکوي په دې کې د پرښتو، آن چې د انسانانو اعمال لیکونکو ملائکو(کرام الکاتبین) یادونه هم شوې ده، سکان په جنت او دوزخ هم یقین لري، د گرنت ابتدائۍ برخه له اسلامي نظریاتو ځخه ډکه ده. البته په وروستیو برخو کې د هندوئیزم عقیده زیات ځای پر ځای شوې ده.

کله چې زه ماشوم وم نو د سکهـ مذهب په باب مې ډېر کم معلومات درلودل.

زه د شپږو کلو په عمر کې وم چې د مسلمانانو آذان مې ډېر خوښېده، ما فکر کاوه چې د مسلمانانو لمونځ همدا اذان دی. ما یقین درلود چې الله یو دی، له وړوکتوب نه مې د بتانو له عبادت نه کرکه درلوده او دا مې نه خوښاو چې یو انسان دې د کاڼو او لوټو نه د جوړ شوي بت پرستش وکړي زه ابتدایي ښوونځي کې وم چې د بدهـ مت کتابونه مې ولوستل مگر زما زړه د هغه په حقانیت قانه نه شو، څه موده پس زما څو عیسایي دوستانو د عیسویت دین څو کتابونه راکړل هغه مې هم په پوره فکر او غور سره ولوستل خو زما زړه وربانديې مطمئن نه شو، په ځانگړې توگه د تثلیث عقیده زما خوښه نه شوه کله مې چې له عیسویانو سره په دې باره کې بحث او مباحثه کول غوښتل نو هغوي به په دې مسئله کې له مباحثې نه ډډه کوله او ماته به یې قناعت نه شو را کولی څه وخت وروسته له یو مسلمان ډاکټر سره مې اړیکي ټینگې شوې، هغه به ماته د قرآن کریم ځینې آیتونه تلاوت کول او پر معنا به یې پوهولوم. قرآن کریم مې خوښ شو او یوه ورځ مې ترېنه پوښتنه وکړه چې دا څهٔ شی دی؟ هغه راته وویل دا د الله تعالي کلام دی. ددې ځواب په اورېدو سره مې له قرآنکریم سره مینه پیدا شوه او په دې لټهٔ کې شوم چې هرو مرو یې ولولم. له یو کتاب خانې نه مې قرآنکریم هدیه کړ او له اودس کولو نه وروسته مې په لوستلو پیل وکړ. قرآن کریم په ملایي ژبه ژباړل شوی و او تفسیر یې هم په ملایي ژبه کې لیکل شوی ود قرآن کریم او ځینو نورو اسلامي کتابونو له لوستلو وروسته زما زړه گواهي ورکړه چې یواځې اسلام حق دین دی، د خنزیر غوښه او شراب مې پرېښودل، د امکان تر حده مې د اسلام مطابق ژوند تېرول شروع کړ، تر دې چې یوه ورځ زما یو دوست ماته وویل چې ستا ټول حرکات او سکنات، د مسلمانانو په څېر دي، ما هغعه ته وویل چې که ما خپل سکهـ مذهب پرېښود نو د اسلام دین به ځان لپاره غوره کوم.

زه د ۲۱ کلو په عمر کې وم چې د اسلام دین مې ومانه او مسلمان شوم.

زه په دې خبره ډېر خفه وم چې د قرآنکریم په معني او مطلب ولې نه پوهېږم، دغه مقصد ته د رسېدو لپاره مې بشپړ کوښښ وکړ چې عربي ژبه زده کړم، بالاخره د الله تعالي په لوی فضل او کرم ددې جوگه شوم چې قرآنکریم تلاوت هم کړم او پر معناي یې هم ځان پوه کړم.

زما کورنۍ ته معلومه نه وه چې زه مسلمان شوی یم، البته هغوي ته دومره معلومات شوی وو چې د اسلام په باب د معلوماتو تر لاسه کولو په لټه کې یم.

زما تره ماته وړاندیز وکړ چې له هغه سره په کار اوبار کې شریك شم، هغه د بعلاوي مسجد ته نژدې د یو تعمیر کار په ټیکه نیولی و، زه به د لمونځ د لوستلو لپاره مسجد ته تللم، هلته زما یو دوست زه وپېژندلم او د مسجد امام سید حسن العطس ته یې معرفي کړم. هغه زما په لیدو خوشاله شو او مطالعې لپاره یې څو کتابونه هم راکړل چې د علامه عبدالله یوسف علي په انگریزي ژبه ژباړل شوي قرآن کریم هم پکې و، بالاخره زما د مسلمانېدو پته زما کورنۍ ته هم وشوه او له مانه یې پوښتنه وکړه چې آیا ته مسلمان شوی یې؟ ما هم خپل اسلام له هغوي نه پټ نکړ

پاتې ٤ مخ

شهادت جریده

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسوول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال عبدالخلیل (محمد خلیل)
اړیکو شمېره: ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۶
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
ادرس د حزب اسلامي دفتر: سیلو ته مخامخ
خوشحال خان مېنه

نبوي ارشاد

له حضرت عایشې رضي الله عنها څخه روایت دي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: زه په خوب کې جنت ته لاړم هلته مې د قرآنکریم د تلاوت آواز تر غوږو شو، ما وویل دا څوک دي چې قرآن لولي؟ پرښتو وویل چې دا حارث بن نعمان دی. رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل له مور او پلار سره د ښېګڼې ثواب همداسې دي دا یې دري خلې تکرار کړه او حارث بن نعمان له خپلې مور سره ډېر ښېګې کوونکی و.   مشکوات

ولې مو اسلام ...؟

او ورته مې وویل چې هو زه مسلمان شوی یم. هغوي زما په دې کار خفه شول او راته یې وویل چې دا زموږ د خاندان لپاره لویه بدنامي ده، ما ورته وویل که هر څه وي زه اسلام نشم پرېښودلی ځکه چې ما کومه جذباتي فیصله نده کړې چې اوس ترې نه پښیماني ښکاره کړم، بلکې ما د ګڼو مذاهبو له ژورې مطالعې نه وروسته اسلام یو صحیح او ريښتونی دین په توګه موندلی دی، که تاسې دا فکر کوئ چې ما د اسلام دین د کم علمۍ او جذباتیت په وجه قبول کړی نو بیا تاسې له ماسره تفصیلي بحث او مباحثه وکړئ تر څو معلومه شي چې څوک په حقه دی او څوک په غلطه روان دی. که تاسې ثابته کړه چې ما غلطي کړې ده نو زه به د اسلام دین پرېږدم، خو که ما غلطي نه وي کړې نو بیا له تاسو نه مې هیله داده چې ما پخپل کور کې د مسلمان په توګه ومنئ. له څو ورځو بحث او مباحثې نه وروسته هغوي دا ومنله چې زه په حقه یم، مګر بیا هم زما مور او پلار په دې هیله وو چې شاید له اسلام نه بېرته وګرځم. د وخت په تېرېدو زما ایمان او عقیده نوره هم قوي کېده د اسلام په دین مې ښکاره عمل کاوه مسجد ته مې ورتګ زیات شو او عملاً مې د دیني علومو د زدکړې تر څنګ عربي ژبه هم زده کړه، په کال ۱۸۸۲ میلادي کې رابطه عالم اسلامي زه د حج د ادا کولو لپاره راوبللم له ماسره یو بل نوی مسلمان شوی شخص هم ملګری و.

د حج په ورځو کې زما ملاقات د بین الاقوامي اسلامي پوهنتون یو استاد پروفیسور داکتر انیس احمد سره وشو، هغه ماته په دې کې د سبق ویلو وړاندیز وکړ او ما د هغه دا غوښتنه ومنله او هلته مې داخله واخیسته، بیا جامعه اظهر یونیورسټي ته لاړم او هلته مې سبقونه وویل. په آخره کې زه خپلو هغو ورونو ته چې نوي مسلمانان شوي دي دا عرض کوم چې هېڅ قسمه تشویش او پریشانی ته پخپلو زړونو کې ځای مه ورکوئ، ستاسې ټول کړاوونه به الله جل جلاله اسانوي تاسې صرف په بشپړ اخلاص سره د الله تعالي بندګي او پرستش وکړئ،

ل جا لاس ته مه ګورئ همغه لوی ذات ستاسې ټول کړاوونه او پریشاني ... وي که تاسې غواړئ چې ستاسې کورنۍ، دوستان او نور خپلوان هم اسلام ومني نو هغوي ته ضرور د اسلام بلنه ورکړئ، خو دا خبره هرګز له یاده ونه باسئ چې هدایت ورکول یواځې د الله تعالي کار دی.

یواځې ګیلې، شکوې او که عملي اقدام هم؟!

نصرالله

په دې کې شک نشته چې د افغانستان په ورانولو کې د پراختیا غوښتونکو هېوادو لوی رول دی، او هر یو د دوستۍ او خواخوږۍ تر عنوان لاندې د غرض نیلي څغلولي دي. که څو لسیزې وړاندې ډیر افغانان د هغوئ په شومو اهدافو نه پوهېدل خو اوس نړۍ په سلو کې ۹۵ افغانان په دې حقیقت پوه شوي دي چې هر څوک که هر څه کوي د خداي د رضا لپاره نه بلکې د خپلو ګټو لپاره یې کوي.

دا د پردیو د لاسوهنو او رقابتونو نتیجه ده چې افغانستان د نا امنۍ او نا کلارۍ کور ګرځېدلی دی.

خو اوس پوښتنه داده چې آیا د پردیو د شومو اهدافو او لاسوهنو دفاع په تشو ګلو شکوو کېږي او که ددې مخنیوي لپاره موثر اقدام او پلان ته هم ضرورت دی. آیا له دې بد حالت نه د وتلو او د پردیو د دفاع لپاره به له خپل مادي او معنوي ځواک څخه کار اخلو او که د بل چا مرستې او لاسنیوي په تمه به کېنو چې موږ له دې حالت نه خلاص کړي؟

څرګنده خبره ده چې د بل چا په تمه کېناستل او خپل مسولیت پخپله نه تر سره کول زموږ لپاره له زیانه پرته بل هېڅ ګټه نه رسوي. تاریخ ګواه دی چې هغو ولسونو او قومونو د ارتقا پړاوونه وهلي او د خپلواک ژوند خاوندان شوي چې پخپله د همت ملا تړلې او له ستونزو نه د وتلو لپاره یې پخپله هلې ځلې کړي دي.

د کایناتو د پیداکوونکي او پالونکي ذات الله جل جلاله نه بدلېدونکې فیصله همدا ده چې تر څو یو قوم پخپله د خپل حالت د بدلولو کوښښ ونکړي الله تعالي د هغوي حالت پخپله نه بدلوي.

د څو لسیزو راهیسې موږ پخپلو سترګو وینو چې نور هیوادونه په افغانستان کې د خپلو ګټو له پاللو پرته بل هېڅ په نظر کې نه لري. ځینې په ستراتیژیکې لحاظ ترینه ګټه اوچتول غواړي او ځینې نور د افغانستان قیمتي زیرمو او ذخایرو ته غله دي.

سمه ده چې د افغانستان ولس د څو لسیزو جګړو ځپلی دی، اقتصادي حالت یې صفر ته رسېدلی دی، د ژوند په هر ډګر کې ډېر وروسته پاتې دي، نشي کولی چې خپلې ورځنۍ اړتیاوې پوره کړي او د نورو هیوادو له مرستو څخه بې نیازه شي خو دا دی لپاره بهانه هم نشي جوړېدلی چې د افغانستان ولس د پردیو د مداخلو او لاسوهنو په وړاندې د دفاع ځواک له لاسه ورکړی او نشي کولی چې په خلاف یې مقاومت وکړي.

که موږ اصل مشکل ته ځیر شو نو دا حقیقت په ګوته کېږي چې موږ خپل قوت او ځواک پخپله له لاسه ورکړي دی همدا موږ دیته لاره هواره کړې چې پردي هېوادونه په اسانه افغانستان ته لاسونه وغځوي او زموږ روحاني او مادي ګټې تحدید کړي.

که د افغانستان حکومت، سیاسي مشران او ټولې پرګنې په بشپړ قاطعیت او صمیم عزم سره وغواړي چې د مغرضو هېوادو په وړاندې د دفاع فولادي غرونه ودروي نو له څه شک پرته ددې استعداد او وړتیا لري. د نړۍ په سر افغان هغه منل شوي قوم دی چې د جنګ او جهاد په سنګر کې همیشه د اتلولۍ او قهرماني لقب ځانته ګټلی دی، پرون هم نړۍ د افغانانو قهرماني منلې وه، نن هم په دې واقعیت اعتراف کوي چې د افغانانو جنګي قابلیت او حوصله حیرانوونکې ده. افغانانو تر اوسه له پردیو سره د جنګ په ډګر کې ماته نه ده خوړلې البته له بده مرغه په سیاسي او قومي جوړښت کې له داسې ماتې سره مخامخ دي چې د هېواد سالمیت او استحکام یې هم له ګواښ سره مخ کړی دی.

له دې حالت نه د وتلو یواځینې لاره داده چې د افغانستان سیاسي، مذهبي او قومي مشران خپل ټول له ځانه جوړ شوي جعلي اختلافات شاته وغورځوي، لکه څنګه چې د نورو هیوادو مشران د خپلو هېوادو د ګټو د پاللو او د خپلې خاورې د استحکام او خپلواکۍ لپاره پخپلو کې یو موټي کېږي همداسې د افغانستان مشران او ولس هم پخپلو کې یو موټي او یو لاس شي.

سیاسي ګوندونه او سیاسي قیادتونه تقریباً د نړۍ په هر هیواد کې شتون لري خو د هغوي سیاسي تګلاره او موخه د هیواد او هېوادوالو ښه خدمت دي، د هغوي تر منځ اختلاف د هیواد د ترقي او ملي سلامتیا د غښتلي کولو د کړنلارې په سر دي چې کومه کړنلاره د هیواد د ګټو لپاره مثمره ده؟

په کوم وخت کې چې د هیواد استحکام او استقلال له ګواښ سره مخامخ کېږي نو د هغه د دفاع په خاطر سمدلاسه ټول سیاسي ګوندونه ګډ دریځ او یو شعار اعلانوي او په یو غږ د خپل هېواد د دفاع لپاره عملي میدان ته را دانګي، مګر له بده مرغه د افغانستان ډېری سیاسي مشران له دغو مواصفاتو څخه عاري دي او خپلې شخصي ګټې د خاورې او استقلال له مهمو ګټو څخه مقدمې ګڼي او دیته نه چمتو کېږي چې د هیواد د استقلال او ملي ګټو په خاطر خپلې ذاتي ګټې شاته وغورځوي

که د هېواد مشران واقعاً له خپلې خاورې نه د پردیو د مداخلو مخه نیول غواړي نو ملي پخلاینې او د یو دریځ له اعلانولو پرته بله لاره نلري، نه ګلې شکوې د پردیو مخه نیولی شي او نه هم شور او غوغا.

ناتو تلفات غیرنظامیان افغان در جریان عملیات نظامی را پذیرفت

نظامیان ناتو در افغانستان کشته شدن پنج غیرنظامی را در جریان عملیات این نیروها در شرق افغانستان پذیرفته اند. این عملیات به تاریخ دوازدهم فبروری سال جاری، حدود دو ماه پیش، در ولسوالی گردیز در ولایت پکتیا به اجرا گذاشته شد.

ناتو اعلام کرده که تحقیقات همه جانبه در مورد این عملیات نشان داد که پنج غیرنظامی کشته شده در این عملیات شامل دو مرد و سه زن بوده است. ناتو از بروز این حادثه ابراز تاسف عمیق کرده است. در اعلامیه ناتو آمده که مردان حاضر در خانه ای که مورد حمله قرار گرفت، مسلح بودند و نیروهای ناتو آنان را با شورشیان طالبان اشتباه گرفتند.

اعلامیه ناتو افزوده است که بعدا مشخص شد این افراد رابطه ای با طالبان نداشته و فقط برای دفاع از خود سلاح برداشته بودند. در اعلامیه ناتو آمده است که گمان می رود سه زن حاضر در این خانه نیز در جریان تبادل آتش سربازان با مردان خانواده از پا درآمدند. به گفته ناتو، این حادثه زمانی اتفاق افتاد که نیروهای ناتو، محلی در شهر گردیز را برای یافتن افراد طالبان جستجو می کردند. تلفات غیرنظامیان به موضوعی حساس در مبارزه سربازان ناتو با افراد گروه طالبان تبدیل شده است.

د سولې جرګه به د...

د پوهنې وزیر هغه ریوټونه رد کړل چې کیدای شي پدې جوړېدونکې جرګه کې به په افغانستان کې د بهرنیو قواو د شتون او وتلو په مسلو هم خبرې وشي. ډاکټر وردک وویل هر څوک چې سوله غواړي هغوي به پدې وخت کې هیڅکله هم افغانستان نه د بهرنیو قواو وتل ونه غواړي.

"فاروق وردګ ددغې جرګې د جوړېدلو د مصارفو په باب وویل چې د جرګې مصارف ډېر نه دي هغه وویل چې جمهور ریس کرزي ورته په کلکه ویلې چې د جرګې مصارف دې پخپله د افغانستان د کورنیو عوایدو نه ورکړل شي.

ډاکټر فاروق وردک د سولې د ملي مشورتي جوړېدونکې جرګې د غړو شمیر تر ۱۳۰۰ پورې وښوده وویل چې ددغو استازو زیاته برخه به د پارلمان د دواړو مجلسونو غړي د ولایتي شوراګانو د پخواني سناتوران او د افغانستان د ۳۶۴ ولسوالیو او د یو شمیر ښارونو د ناحیو استازي وبلل وویل چې دغې جرګې ته به په ۱۳ کتګوریو کې د ولایتونو او په ولایتونو کې د میشتو قومونو استازي د هغوي قومي جوړښت او موجودیت ته په کتنې راوبلل شي . وردک د سولې د مشورتي ملي جرګې د امیت په باب وویل چې دا جرګه به د هغو امنیتي اقداماتو په سیورې کې چې د ثور د اتمې د ډاکټر نجیب الله په حکومت باندې د پخوانیو مجاهدینو د بري د ورځې لپاره په پام کې نیول شوي جوړه شي.

ناکامی در جنگ...

نظامیان را در شرایط بسیار مشکل در این کشور در نظر نمی گیرند.

به نوشته این روزنامه بریتانیایی، از زمان آغاز جنگ افغانستان تا کنون ۲۷۹ نیروی اردو بریتانیا در افغانستان کشته شده اند که بیشتر تعداد تلفات طی ماههای اخیر در نتیجه انفجار ها بوده است. ایندیپیندنت در همین حال به نقل از جنرال سر دیوید ریچاردز لوی درستیز اردوی بریتانیا می نویسد: حمایت مردم بریتانیا از جنگ افغانستان حیاتی است همچنان قوماندان سابق نیروهای خاص هوایی بریتانیا در افغانستان در باره عدم حمایت کافی مردم از جنگ و شکست در افغانستان هشدار داده است. همچنین با وضعیت مشکل کنونی در افغانستان تشویشهای زیادی وجود دارد که طالبان دوباره حملات خود را از سر بگیرند و تلاشهای زیادی را برای از بین بدن بسیاری از نظامیان انجام دهند که با همین اقدام منجر به کاهش حمایت مردم از ادامه جنگ افغانستان و تشویش افکار عمومی در باره جنگ خواهند شد زیرا در این صورت مردم خواستار خروج نیروهای امنیتی خود از افغانستان خواهند شد.